# روښان فکري له اروپا نه
# تر پیر روښان پورې

ډاکټر اصل مرجان محیب وزیر*
ډاکټر کیرن سینین♣

**Abstract:**
The study disclosed that enlightenment is a well understood phenomena and known as a movement of the European modern history as well. It's brought many new ways of educational and scientific development. All nations of the world had some important movements in their history and similar is the case of Pakhtun social structure in the form of Bayazid Roshan known as Rokhani movement, focused on Greek philosophy. Moreover, this paper examined the background of European and Rokhani movements. Furthermore, the study also highlighted the common prevailing aspects in both of the movements followed by similar conceptions in it, while disclosing its results.

## روښان فکري:

روښان فکري د ژوند د ټېرولو په اړه د یوې روئې نوم دی. روښان فکري د ټولنیزو قدرونو د نور ښه سفر نوم دی. هر هغه شی یا عمل چې زما د ټولنیزو قدرونو، روایتونو، عقیدې نه پرته د بل چا په ټولنیزو قدرونو، روایتونو او عقیده کښې ښه په نظر راځي، د هغې قبلولو او منلو ته روښان فکري وایي. دا خپل ځان، خاندان، قبیلې، قام، وطن او هېواد ته په تنقیدي نظر د کتنې نوم دی. په ټولنیزه توګه داسې ادارو ته رواج ورکول چې ټولنه کښې د غلطو (منفي) روایتونو په ځای سمو (مثبتو) روایتونو ته رواج ورکړي، په مذهب کښې د اجتهاد کولو او د زمانې سره د هم اهنګ کولو عمل ته روښان فکري وایي:

دا د یوې داسې ازادۍ نوم دی چې فرد یا ټولنه د ښو (بهترۍ) لوري ته سفر په کښې کولی شي، ولې بدیو ته په کښې تش د کتنې اجازت هم نۀ شته.

---

* Assistant Professor Pashtoon Khwa Mutaleati Markaz Bacha Khan University of Charsada.
♣ Assistant Professor Pashtoon Khwa Mutaleati Markaz Bacha Khan University of Charsada.

يو روښان فکر انسان په روايتونو پورې انښتی نهٔ وي ـ هغه مدام د ښو نه ښو په لټون کښې وي ـ پرون ئې د لاس نه نيولی وي، حال ئې په سينه پورې کلک ساتلی وي او سبا ئې د نظر په زاويو کښې خوندي کړی وي. د تاريخ نه روايتونه مرتب کوي، په حال کښې تجربو ته لارې سموي او سبا د پاره د امکاناتو دريڅې خلاصې ساتي ـ عقل، تدبر، دليل، رواداري، اعتدال، زغم (برداشت) تنقيد کول او د تنقيد قبوليت غوندې ګټندوي (مثبت) توکيو ته رواج ورکول ئې بنستيزه نعره ګرځېدلې ده ـ يو روښان فکره انسان په دې خبره يقين ساتي چې که زما هره خبره سمه کېدی شي، نو د بل هره خبره غلطه نهٔ شي کېدی ـ يو روښان فکره انسان هر څهٔ کېدی شي، خو منافق نهٔ شي کېدی، ځکه چې هغه د مصلحت (Compromise) ښکار انسان نهٔ وي. هغه ازادي خوښ وي خو د عقل په بنياد، د دليل په لاره او د تدبر په ترخ کښې چې په ټولنه کښې رواداري، اعتدال او زغم پېدا کړي ـ

نن سبا چې د روښان فکرۍ يا روښان خيالۍ خبره چېرته هم کېږي، نو جرړې ئې د اروپايي هغه تحريک سره پېوستوي چې په شوارلسمه عيسوي پېړۍ کښې د اتاليه څخه راپورته شوی وو چې نړۍ ئې د علمونو د بيا ژوندېتوب ( احيائې علوم) په نامه پېژني ـ د روښان فکرۍ دغه پېوستون نهٔ يوازې هغه خلق کوي چې د پښتو ژبې يا د پښتنو د سياسي تاريخ څخه کومه ژوره خبرتيا نهٔ لري، بلکې هغه استاذان او پوهان هم زياتره په خپلو ويناوو کښې د روښان فکرۍ دغه پېوستون د ياد شوي اروپايي تحريک سره تړي ـ

خو که وکتی شي په پښتو/پښتنو کښې روښان فکرۍ ورومبنی منظم فکري تحريک روښاني تحريک دی ـ د يو باقاعده فکر په اساس د ټولنيزو روايتونو څخه د بغاوت تحريک، مروجه روايتي مذهبي دايرې څخه د بغاوت تحريک او د مغل استعمار په ضد د قامي مبارزې تحريک او د مغل استعمار جوړ کړي ټولنيز ساخت نه د وتلو تحريک ـــ چې بنسټ ئې د بايزيد انصاري المعروف پير روښان (1515-20) په تعليماتو او افکارو ايښودی شوی وو ـ

## اروپايي روښان فکري:

په نړيواله کچه چې د روښان فکرۍ خبره کېږي، نو رېښې ئې د روښان فکرۍ هغه تحريک يا هغه منابعو يا هغه دور ته رسي، کوم ته چې د يورپ په تاريخ کښې د روښان فکرۍ دوره (Age of Enlightenment) وئيلی شي چې د شوارلسمې پېړۍ نه په اټاليه کښې شروع کېږي او اتلسمه عيسوي پېړۍ کښې په سپېن، هالېنډ، فرانس او

برطانیه کښې خپل عروج ته ورسېږي. د دغه دور فلسفیانو، مفکرینو او فطري او ټولنیزو ساینسدانانو (Natural and Social Scientists) چې کوم خیالات، تصورات او نظریات وړاندې کړي دي، هغه د روښان فکرۍ اصل ماخذات ګڼي.

په روښان فکرۍ د ځان پوهونې د پاره باید چې مونږ د نوي (جدید) یورپ په تاریخ هم نظر اچولی وي، ځکه چې مونږ وړاندې یوه حقیقه اشاره کړې ده. د نوي یورپ تاریخ د څوارلسمې پېړۍ کښې د اټالیه څخه هغه وخت راپورته کېږي چې د فرانسسکو پټرارک (1374-1304) په مشرۍ کښې د علمونو د ژوندي کولو (احیائې علوم) یا د نوي ژوند (نشاة ثانیه) تحریک راپورته کړو. دغه تحریک کښې د قرون وسطی د دور د هغو پابندیو په ضد علم پورته کول وو چې د زوړ یونان په کلاسیکي علم او فلسفه باندې ئې د چرچ بادشاهت یا حکمرانۍ ته لاره ورکړې وه. د دغه تحریک په نورو سرکرده فلسفیانو یا ساینس پوهانو کښې مارټن لوتهر (1483-1546)، پیکو ډیلا مرنډولا (1494-1463)، ګلېلیو (1642-1564)، تامس هابس (1679-1588)، فرانسس بېکن (1626-1561)، ډیکارت (1650-1596) او یو شمېر نور شامل وو. په دغه تحریک پېژندلی تاریخ پوهه وېن لون څۀ داسې تبصره کړې ده چې اردو ترجمه ئې علي عباس جلال پوري په خپل کتاب "خردنامه جلال پوری" کښې څۀ داسې کړې ده:

"خلقو ته یو ځل بیا احساس وشو چې ژوند ډېر لوی نعمت دی او صرف ژوندي اوسېدل د یوې لوئې خوشحالۍ سوب دی. دغه نتیجه وه د یوناني فلسفې د ژوند کولو چې په ذهنونو د پېړیو راسې پرتو د رهبانیت ګردونه ئې لرې کړل." (۱)

د علمونو د ژوندي کولو یا د نوي ژوند شروع کولو دغې تحریک د خېټې څخه په اتلسمه عیسوي پېړۍ کښې یو بل تحریک را ووتو چې د خرد افروزۍ/خرد پسندۍ/مادیت پسندۍ/عقل پسندۍ/عقلیاتي/ قاموسیانو د تحریک په نومونو یادېږي چې مشري ئې والټئیر (1778-1694) کوي، ډیوډ هیوم (1776-1711) جان روسو (1778-1712)، عمانوېل کانټ (1804-1724)، دریدا ؟، وولباخ؟ او نور یو شمېر ئې په سرخېلانو کښې راځي. د دغه تحریک په اړه بیا په خپله علي عباس جلال پوري څۀ داسې تبصره کوي:

"د دغه دور د فلسفې په وړاندې دوه موخې وې: (۱) عقلیت (۲) بشر دوستي. دوي (دغه مفکرین) د هغه ستر عقلیاتي پاڅون وارثان وو چې د علمونو ژوندي (احیائې علوم) په وخت کښې په یورپ کښې مخې ته راغلی وو. دوي د فکر او تدبر رهنایي په نړۍ

کښې خوره کړه او دا اعلان ئې وکړو چې تهذیب او تمدن او علمونه او هنرونه د ټولو انسانانو شریک میراث دی"(۲)

دغې تحریک دغه اعلان هم کړی وه چې راتلونکي (مستقبل) کښې به ګټه تش د عقل او پوهې وي، د دلیل او استدلال بېرغ به رپاند وي او د انساني ورورګلوۍ (انسانیت) نه سېوا د انسانانو سره د بدلېدونکیو ساینسي ترقۍ په وړاندې بله کومه لاره نۀ شته.

د انګرېزۍ ژبې درې اصطلاحات سېکولر ازم (Secularism)، لبرال ازم (Liberalism) او روښان فکري (Enlightenment) داسې دي چې په معنوي لحاظ یو بل سره ډېر نزدې دي، نو ځکه ئې زیاتره خلق د یو بل د پاره کاروي. خو زما خیال دی چې روښان فکري (Enlightenment) بیا یوه داسې اصطلاح ده چې دا پاتې دواړه اصطلاحات په ځان کښې راځایوي. لبرال ازم کښې دوه ډېر مهم توکي ځانګړتوب او ازادي شتون لري، کوم چې د وګړي (فرد) په ازادۍ زیات زور راوړي او ټولنه د دې پابنده ګرځوي چې باید وګړي ته د خپلو صلاحیتونو د اظهار بشپړه ازادي ورکړی شي. جان ګری په کښې نور څلور توکي ځانګړتوب (Individualism)، مساوات، افاقیت او اصلاحیت (Reformism) هم شامل بولي (۳) ـ خو یاده دې وي چې د لبرال ازم مساوات نه مراد سوشلزم بېخي نۀ دی، بلکې دا مساوات په دې معنا کښې چې هر وګړي ته د صلاحیتونو د کارولو برابر موقعیت ترلاسه وي، یعنې د مقابلې د پاره د ټولو د پاره یو شان ماحول برابرول. البته دا لبرال ازم بیا د روښان فکرۍ نه په دې معنا جدا دی چې دې کښې د زړو هغه هومره قدر او قیمت نۀ شته، څومره چې په کښې نوي ته د قدر په نظر کتل شي، په بله معنا دا د ازادۍ او پرمختګ په نوم د قامونو په کلتور او معاشي منډیو کښې داسې ور ننوځي چې د خپل شته کلتور او منډۍ څخه ئې هم لاس ور ووینځي او هغه ټولنیز نظریاتي شالید نۀ لري کوم چې روښان فکري یا سېکولرازم لري. البته دا درې واړه اصطلاحات د نوي یورپي تاریخ د خېټې نه راز بېږېدلي دي. علي عباس جلالپوري د انګرېزۍ Enlightenment ژباړه په اردو ژبه کښې د خرد افروزي په ټکیو کړې ده او د خپل کتاب" خرد نامه جلالپوري" په پېش لفظ کښې ئې د خرد افروزي پینځه توکي داسې یاد کړي دي:

"د عقلیت خوښونې خورول

سائنس او فلسفه د مذهبي حاکمیت نه خلاصول

د انقلابیت او عقلیت خوښونې یا سائنسي علمونو په رڼا کښې د ټولنې یو ځل بیا رغول

د مذهبي کرکې او لېوتتوب له مینځه وړل. بشر دوستۍ له وده ورکول“ (۴)

مونږ د یورپي روښان فکرۍ د شالید (پس منظر) په ترڅ کښې دا ولوستل چې په څوارلسمه عیسوي پېړۍ کښې فرانسسکو پېټرارک وړومبنی کس دی چې مروجه چرچ/پادري ماډل محدود علمي ساخت کښې درزونه جوړوي او د یونان کلاسیکي علمونو ته لاره خلاصه وي او عیسایي مذهب کښې د جدیدیانو (Protestant) په نوم یوه نوې فرقه مخې ته راځي او د څوارلسمې پېړۍ نه شروع شوې علمي تحریک اتلسمه پېړۍ کښې عروج ته رسي او د خپتې نه ئې ستر ډېر اصطلاحات او معناوې راووځي چې ننني علمي نړۍ ورباندې ښایسته ده او ورباندې ویاړي.

## • پیر روښان او روښان فکري:

بل خوا پښتو/پښتنو کښې د روښاني تحریک شروع د شپاړسمې پېړۍ د وړومبي نیمایي نه د پیر روښان د افکارو څخه کېږي. د دوي په افکارو باندې د علم او ادب متې ودرېږي او د قامي تاریخ ودانۍ (عمارتونه) جوړېږي. مذهب د ملا (ملائیت) او پیر له غېږې نه رابهر کوي او د وحدت الوجود په لاره ئې د تصوفي فلسفې سره اشنا کوي او هغه ټول توکي (عناصرو) په کښې ځایوي، د کومو چې مونږ د یورپي روښان فکرۍ په ضمن کښې ذکر وکړو.

روښاني تحریک ته د پښتنو یو شمېر پوهان سیاسي تحریک وایي او بل یو شمېر بیا ورته خالص مذهبي تحریک وایي -زما په خیال هر هغه څوک چې دا ډله خالصه مذهبي یادوي، هغوی په سیاست د مذهب د اثراتو نه ناخبره دي -په تاریخي توګه که مونږ وګورو، نو په د هر دور په سیاست باندې ستره اغېزه پاتې شوې ده او سیاست تر ډېره حده د مذهب په پنجه کښې نخښتې پاتې شوی دی -په دغه غرض روښان فکرانو همېشه راسې سیاست د مذهب د پنجې نه ازادولو د پاره د مذهب اصل روح د وړاندې کولو هڅې کړې دي -پیر روښان هم چې په خپله زمانه کښې ولیدل چې پښتنو کښې روایتي پېرۍ او ملائیت خپلې جرړې دومره کلکې کړې دي چې د ددوي سیاسي مفکورې ئې په خپل موټي کښې بند کړې دي، نو ځکه ئې د بې بنیاده مذهبي توضیحاتو په ضد عَلَم پورته کړو او د سیاست ئې د پیر او ملا د ولقې نه د رابهر کولو هڅه وکړه. خو دا خبره." روښاني فرقه یوه مذهبي فرقه" خو چې سیاست ته ئې لاس واچولو، نو دل دول شو."(۵) سره اتفاق ځکه نهٔ شي کېدی چې روښاني تحریک خو ”دل دول“ ببخي شوی نه دی، بلکې تر ننه پورې ئې اثرات مخې ته راځي او څومره څومره چې پښتانهٔ د روښاني تحریک په مبادیاتو پوهېږي، دومره دومره به ئې اثرات نور هم

مخې تـه را وړانـدې کېـږي -پيـر روښـان خپـل مخـالفين مشـرکان او منـافقين ګڼـل، نـن هـم مـونږ هغـه مشـران او ملکـان غـداران او قـام خرڅـوونکي ګڼـو چـې د اسـتعمار ملګـري دي او د اسـتعمار د ګټـو سـاتندويه دي -ده هغـه پښـتانۀ راټولـول پېـل کـړل چـې تـر دې دمـه بېخـي پـه قبيلـوي سـاخت کښـې د يـو بـل نـه بېـل او نـاخبره پراتـه وو او چـې دا پښـتانۀ ئـې د ځـان سـره ملګري کړل نو د دربار غوږونو ته دارنګې اوازې ورسېدې:

"ډېـر پښـتانۀ وربانـدې راټـول شـوي دي کـه عـلاج ئـې ونـۀ شـي، نـو نـن او يـا سـبا بـه توره واخلي-" (۶)

پيـر روښـان يـا روښـانيانو تـل د روايتونـو او حکـايتونو پـه ځـاى د علـم او دليـل پلـوي کـړې ده او پـه پـوره اسـتدلال سـره ئـې خپـل دريـځ مخـې تـه ايښـى دى -سـيف الرحمـان محسـود د دوي پـه دغـه اړخ بانـدې بشـپړه رڼـا اچـولې ده او د پـايلې پـه توګـه ئـې پـرې ډېـره د کار تبصره کړې ده:

"لنـده دا چـې روښـاني انقـلاب د جهالـت او بـدامنۍ، د اسـتعمار او غلامـۍ، د زبېښـاک او مفـت خـورۍ د منځـه وړلـو او فـردي او اجتمـاعي ازادۍ د حصـول دپـاره داسـې ګامونه پورته کړل چې د پښتنو په تاريخ کښې سارى نه لري." (۷)

- **د يوروپي او روښاني تحريک ماخذ:**

او د دغـو دواړو تحريکونـو چـې د ډېـر لـږ وخـت (وړانـدې وروسـتو) پـه فـرق سـره مخـې تـه راغلـي دي، ډېـر عجيبـه يـو شـان والـى لـري -اخـر دا دې ي، شـان والـي وجـه څـۀ کېـدى شـي؟ د يـوروپي روښـانه دور(Age of enlightenment) پـه تـرڅ کښـې مـونږ ولوسـتل چـې د يونـاني کلاسـيکل علمـي روايـت تـه ترجـه راګرځولـو پـه تـرڅ کښـې دا هـر څـۀ ممکـن شـول -خـو کـه وکتـى شـي د دې دواړو تحريکونـو ماخـذ هـم دغـه يونـاني علـم او فلسـفه ده -اوس دلتـه سـوال دا پېـدا کېـږي چـې د روښـاني تحريـک بـاني پيـر روښـان يـا د هغـه مريـدانو تـه د يونـان فلسـفه څنګـه راورسـېده؟ چـې ځـواب ئـې ډېـر سـاده او اسـان دى او ډېـرو خلقـو يـاد کـړى هـم دى- ظفر سپل په خپل کتاب "مسلم فلسفے کا تاريخی ارتقاء" کښې ليکي:

"د اسلامي فکـر دوه غټ ماخذونـه ـــ يـو قـرآن شـريف ـــ دويـم يونـاني فلسـفه ده او ترڅـو پـورې چـې پـه يونـاني فلسـفه د پـوهې او زده کـړې خبـره ده، نـو د هغـې ابتـدا د يونـاني علمونـو د کتـابونو تـر ژبـاړې څخـه شـوې ده او پـه عباسـي دور کښـې مـونږ تـه د ډېـرو مسـتندو او پروفېشـنل ژبـاړوونکيو يـو قطـار پـه نظـر راځـي چـې حنـېن بـن اسـحاق او قسـطا بـن لوقـا پـه شـان ژبـاړه کـوونکي پـه کښـې شـامل دي چـا چـې د ژبـاړو نـه پرتـه پـه فلسـفيانه موضوعاتو د ليکلو کار هم پېل کړى وه. " (۸)

او نن چې مونږ د پښتو په کلاسیکي شاعرۍ کښې د یوناني فلسفیانو په خصوصي ډول د سقراط یا افلاطون نومونه وینو، نو دا باقاعده د یو اکتسابي عمل نتیجه ده. دوي د یونان د علمي روایت نه ځان خبر کړی وه او باقاعده ورته دا فلسفه د اسلامي مفکرینو په وسیله رارسېدلې وه (۹). مونږ د کریم داد یا د علي محمد مخلص دا شعرونه په ثبوت کښې وړاندې کولی شو:

"کریم داد حکمت موندلی
له روښان د دین سقراط"(۱۰)

"بې مرشده به دا لار درښکاره نه شي
که په علم حکمت زیات شي له بقراطه"(۱۱)

- **د اروپایي او د پیر روښان په تحریکونو کښې اشتراکات:**

سوال دا هم دی چې د روښان فکري تحریک چې په یورپ کښې شروع کېږي، نو عروج ته څنګه رسي او د قام پرستۍ یا قامي ریاستونو د تشکیل مرحلې ئې ولې ترسره کړې، بل خوا چې هم دغه تحریک د پښتنو په خاوره د لږې مودې په څنډ سره شروع شوی دی، نو بیا ئې د قام پرستۍ ټینګ (مضبوط) بنسټونه څنګه ونه درول یا د قامي ریاست د حصول مرحله ئې څنګه ترسره نه کړه ؟

کوهن (Kuhn) د قام پرستۍ د تحریکونو په لړ کښې دوه قسمه نظرونه په ګوته کوي. یوه هغه قام پرستي چې په سیاسي او معاشي توګه ئې سر راپورته کړی وي او دویم هغه چې د کلتور له لارې مخې ته راغلی وي (۱۲). اول خو دا د قام پرستۍ تحریکونو د پاره د استعمار وجود ناګزیر دی. دویم دا چې د قام پرستۍ تحریکونو کښې د ټولنې منځنۍ طبقه (بورژوازي) زیاته ساه اچوي. برنۍ طبقه د استعماري قوتونو سره پوره پوره مرستندویه وي چې په بدل کښې ئې پوره پوره ګټې (مراعات) هم ترلاسه کړې وي او لاندینۍ طبقې ته د دوه وخته ډوډۍ د ترلاسه کولو نه فرصت نه وي.

د کوهن د خیال نور وضاحت داسې کولی شو چې هغه ټولنو یا قبیلو کښې د قام پرستۍ تحریک زر مخ په وړاندې ځي چرته چې یوه روښانفکره منځنۍ طبقه شتون لري او چرته چې منځنۍ طبقه په علمي، فکري او په معاشي توګه کمزورې وي، هلته قامي تحریک د کلتور (روایت، ژبې، مذهب او تاریخ) باندې اډانه وي او کلتور د راژوندي کولو او ګړندي کولو په نوم او نعره وي، نو هلته د تحریک وړاندې تګ هم سست وي. پښتنو کښې هغه وخت اول دا چې په معاشي توګه منځنۍ طبقې څۀ د تسلی

وړ شتون نه لرلو او بل دا چې په علمي او فکري لحاظ خو بېخي ډېره کمزورې وه. نو ځکه د پیر روښان زیات زور هم د غلطو رسمونو لر کولو او په مذهبي احیا باندې وو. په دغه پېمانه چې مونږ د یورپ او پښتنو د روښان فکری تحریکونو ته ګورو نو د وړاندې تګ پایلې ئې زمونږ په وړاندې دي.

د یورپي روښان فکری په نتیجه کښې دغه نکتې ډېرې اهمې مخې ته راغلې:

۱. د تور دور خاتمه وشوه
۲. فلسفه د چرچ د غلامۍ نه ازاده شوه
۳. د روایتي پادري زده عیسائیت کښې درزونه ولیدل شول
۴. د عقل او خرد په بنسټ د نوو علمونو او تجربو د پاره لاره خلاصه شوه
۵. د اصطلاحاتو نوې معنې او تشریحات مخې ته راغلل
۶. عیسایي مذهب کښې د جدیدیانو په کوششونو په مذهب کښې اجتهاد مخې ته راغی
۷. سائینسي انقلاب ولیدی شو
۸. صنعتي انقلاب مخې ته راغی
۹. قامي تحریکونو او قامي ازادۍ او خپلواکۍ ترلاسه شوې
۱۰. ټولنه د سرمایه دارۍ چوکاټ ته ننوته
۱۱. د سوشلزم او کمیونزم انقلابونه مخې ته راغلل

بل خوا که د روښاني تحریک نتیجو ته ګورو:

۱. د روایتي ملا د غېږې نه د مذهب د راویستلو عمل شروع شو
۲. د استعمار برېښو پیرانو د ولقې نه اولسي خلاصون ته لاره ترلاسه شوه
۳. د استعماري حکمرانانو په ضد اولس ته سیاسي شعور ورکول شروع شو
۴. پښتون اولس د خپلې خپلواکۍ احساس تر ځۀ حده وموندو
۵. د بهرني استعمار، پیر، ملا او خان په ضد طبقاتي شعور لاره وموندە
۶. د جهالت په ضد د عقل او پوهې په لور د پښتون اولس پام راوګرځول شو
۷. قامي تحریکونو د پاره بنیاد ترلاسه شو
۸. قامي جوړښت ته ادامه ورکړی شوه
۹. د پښتو ژبې د پرمختګ لارې خلاصې شوې
۱۰. د فرد په ځای د اجتماع د ازادۍ ازانګې واورېدې شوې
۱۱. د زنانۀ د ازادۍ څرک په کښې ولیدی شو

اروپا یا لوېدیز د روښان فکرۍ د یاد تحریک نه ډېر څۀ تر لاسه کړل او د قامي او ټولنیزې ازادۍ په ترڅ کښې ئې علمي او سائنسي ازادي ومونده او د سائنس او ټېکنالوجۍ په اساس ئې خپل ټولنیز ژوند معیار تر سترې لوړتیا پورې وسولو.

د پښتنو سره هم د روښاني تحریک په ترڅ کښې یو داسې تحریک موجودیت لري چې د دغه تحریک علمي او فکري پایلو د راژوندي کولو سره کولی شي چې د قامي ازادۍ سره سره ټولنیزه ازادي ومومي او بیا یوه پراخه علمي او فکري فضا کښې ساه واخلي او د علم، هنر، سائنس او ټېکنالوجۍ په اساس هم د خپل ژوند معیارونه لوړولی شي او هم د یو سولئیز (پرامنه) او غښتلي راتلونکې هم خپل نوي کهول ته سپارلی شي.

❁❁❁

# حوالې


۱. جلالپوری، علی عباس، خرد نامه جلالپوری، لاهور، تخلیقات، ۲۰۱۰، ص:۲۲

۲. ایضاً، ص: ۱۴۰

۳. فیاض ندیم، لبرل ازم او مذهب پسندوں کا تصادم:

ایک معاشرتي تخریب، google.com

۴. خرد نامه جلالپوری، ص:۱۲

۵. عبدالقدوس، حافظ (مقدمه)، خیرالبیان، تالیف: بایزید انصاري، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، دوهم ځل ۱۹۸۸، مخ:۱۰۳

۶. مسعود، سیف الرحمن، پیر روښان او روښاني انقلاب، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي، ۱۹۹۸، مخ:۱۳۳

۷. ایضاً، مخ:۱۴۳

۸. ظفر سپل، مسلم فلسفے کا تاریخی ارتقاء، لاہور، بک ہوم، ۲۰۰۸، ص:۴۳

۹. محب وزیر، پښتو کلاسیکي شاعرۍ کښې انسان دوستي، ، پېښور، باچاخان ریسرچ سنټر، ۲۰۱۲، مخ: ۱۰۵

۱۰. کریم داد ، دیوان کریم داد ، ترتیب او تدوین، خیال بخاري، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، ۱۹۶۴، مخ:۶۹

۱۱. خوېشکی، پروېز مهجور، ډاکټر، د علي محمد مخلص دیوان، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، س ن، مخ: ۴۶۰

۱۲. مبارک علی، ڈاکٹر، تاریخ اور آج کی دنیا، لاہور، فکشن ہاؤس، ۲۰۱۲، ص:۱۷